


# شپږ میاشتنی رپوټ

## جنوری - جون ۲۰۱۶

### په وروستیو ۱۵کلونو کې دخبر رسونې دبهیرپه اړه ځانګړی رپوټ

AJSC
Afghan Journalists Safety Committee

د نشر نیټه: ۱ جولای ۲۰۱۶

# شپږ میاشتنی رپوټ ( د ۲۰۱۶له جنوری تر جون)

لړلیک

پیلامه

په ۲۰۱۶کال کې د خبریالانو پروړاندې د تاوتریخوالي ۵۴ قضیې

د ۲۰۱۶ په لومړیو شپږو میاشتو کې د تاوتریخوالي ۳۸ سلنه لوړیدل

د ۲۰۱۶میلادي کال په لومړیو شپږو میاشتوکې دخبریالانو پروړاندې تاوریخوالی

له ۲۰۰۱ کال وروسته په افغانستان کې د رسنیو کیفیت

دخبریالانو دملاتړ ادارو غوړیدا او فعالیتونه یې

د افغانستان په رسنیو کې د میرمنو منډ ماتونه


پایله


سپارښتنې

## پیلامه

په افغانستان کې دتاریخ د یوه نوي باب له پرانیستو ۱۵ کاله وروسته ، په داسې یوه دوره کې چې دهیواد وګړو ته یې دا فرصت په لاس ورکړ چې په سیاسي او مدنی برخه کې خپله ازادي تجربه کړي، د رسنیو په برخه کې لاسته راوړنې او هم د رسنیو دشمیر زیاتوالی دهیواد دپرمختګ یوه ځلانده او ترټولو ښکلې وړانګه بلل کیږي. که څه هم چې دغه پرمختګونه او لاسته راوړنې دبیان او رسنیو د ازادۍ په برخه کې افغانستان دسیمې دهیوادونو ترمنځ په خورا ښه ځای کې واقع کوي ،خو په تیره یوه نیمه لسیزه کې د رسنیو دپرمختګ لړۍ له بیلابیلو فرصتونو او هم ننګونو سره مخ شوې ده.
د شمیر له مخې درسنیو زیاتیدل د پام وړ دي ، خو د رسنیو دکارکیفیت او هغه خنډونه چې معلوماتو ته د لاسرسي په برخه کې رسنۍ ورسره مخ دي لاهم د رسنیو او خبریالانو پروړاندې له لویو ستونزو څخه بلل کیږي. له بلې خوا له بیلابیلو لورونه د خبریالانو پروړاندې د ګواښونو موجودیت ، دخبریالانو خوندیتوب له ستونزواو ننګونو سره مخ کړی دی.
دا د افغان خبریالانو دخوندیتوب کمیټې اووم رپوټ دی چې دخبریالانوپروړاندې دتاوتریخوالو سربیره یې په لنډه توګه په تیرو ۱۵کلونوکې د رسنیو د پراختیا په اړه هم یوه کتنه کړې ده .
د یادونې ده چې دقضیو ثبت د افغان خبریالانو دخوندیتوب کمیټې دپالیسۍ له مخې شوی او هغه قضیې ثبت شوې دي چې په مستقیمه توګه یې دخبریال له مسلکي کارسره تړاو لرلی وي. دا په دې معنا ده چې دافغان خبریالانو دخوندیتوب کمیټه د دخبریال او رسنیو  دکارکونکي په اړه مشخص تعریفونه لري او هغه پیښې چې پکې د زیانمن کس حقوقي  حالت د کمیټې له تعریف سره سمون ونه لري ثبت شوې نه دي.

# د ۲۰۱۶ په لومړیوشپږومیاشتوکې دخبریالانو پروړاندې دتاوتریخوالي قضیې




دهيواد لويديځ زون : ۴ قضيې

دهيواد سويل ختيځ زون: ۵ قضيې

دهيواد سويل زون : ۳ قضيې

دهيواد ختيځ زون: ۴ قضيې

دهيواد مركزي زون:۸ قضيې

دهيواد شمال ختيځ زون: ۷ قضيې

كابل او دكابل شمال ته پراته ولايتونه: ۲۰ قضيې


دهيواد شمال زون : ۳ قضيې


# ۳۸ د ۲۰۱۶ په لومړیو شپږو میاشتو کې د تاوتریخوالي ۳۸ سلنه لوړیدل

د۲۰۱۶ کال په لومړیو شپږ میاشتو کی ۵۴ پیښنی چې دخبریالانو وهل ټکول،ګواښنه او وژنه ده ثبت شوي دي  په داسې حال کې چې د۲۰۱۵ کال په لومړیو شپږمیاشتو کې دغه شمیره۳۹ پیښوته رسیده.حکومتي مسوولین اوموظفین بیاهم د خبریالانو پروړاندې دتاوتریخوالي او ګواښ دیوې لوړې برخې مسوول ګڼل شوي دي. همداشان دولت ضد وسله وال دپخوا په پرتله د ډیرو پیښو عاملین ښوول شوي دي . په دغو شپږومیاشتو کې دولتي مسوولین اوموظفین  د ۲۱پیښوعاملین ښوول شوي چې (۳۹٪) جوړوي دغه راز دولت ضد وسله وال د ۱۶پیښو عاملین دي چې دټولو پیښو (۳۰٪) سلنه ښيي.

په همدې حال کې د حکومت  له لورې په داسی حال کی چې ولسمشرله رسنیو سره د چال چلند او خلکو ته دمعلوماتو په رسولو کی د اسانتیاو د رامنځته کولو فرمان هم صادر کړی خوښکاري داسې چې لاهم کوم بنسټیز بدلونونه نه دي رامنځته شوي.

پر همدی مهال د کابل پولیسو له ټولو بهرنیو وګړو چې خبریالان هم پکی شامل دي سپارښتنه کړې چې له ساتونکو پرته له خپلو کارځایونو او استوګنځاینو راونه وځي پولیس دا چاره د بهرنیو وګړیو د امنیت دخوندیتوب لپاره اړینه بولي خو بهرني خبریالان بیا وايي دپولیسو دې اقدام دهغوې پر مسلکي کاري چاپیریال پر وړاندی ستر خنډ بولي






## د ۲۰۱۶ میلادي کال په لومړیو شپږو میاشتوکې دخبریالانو پروړاندې تاوریخوال



ددې کال د جنوري پر ۲۰مه به کابل کې د طلوع نیوز دکارکوونکو پر موټر په ځان وژونکي برید کې دیاد تلویزیون ۷تنه کارکوونکي ووژل شول او تر شلو زیات نور ټپیان شول.دا دافغاستان درسنیو په تاریخ کې درسنیو دکارکوونکو دمرګ ژوبلې تر ټولو خونړۍ پیښه ګڼل کیږي.



دامریکا دملي راډیو خبریال دیوید ګیلکي او دهغه افغان ملګری ذبیح الله تمنا د روان کال د جون میاشتې په ۵مه نیټه هغه مهال چې غوښتل ئې دملي اردو له یو کاروان سره د هلمند ولایت دمارجې ولسوالۍ ته سفر وکړي چې پر موټر یې دبرید له امله دواړه ووژل شول.



دادیب رادیو خبریال محمد ابراهیم هاشمي د۲۰۱۶ کال دفبرورۍ په ۱۴مه نیټه هغه مهال چې له کوره د دندې پر لور روان و دلاري په اوږدو کې دناڅرگندو وسله والو له لوري ټپي شو.دافغان خبریالانو دخوندیتوب کمیټې سربیره پر دې چې له امنیتي بنسټونو سره یې اړیکه ټینگه کړه دهغه د درملنی او کابل ته د لیږد لپاره یی ۵۰۰ ډالره مرسته هم وکړه.کابل ته تر لیږد وروسته یی دهغه په درملنه کې هم ونډه واخیسته او همدارنگه یی د هغه د قضیې دحل په موخه چې پر چا یی عریضه کړې وه دمدافع وکیل لگښت هم پرې کړ.



په لوگر ولایت کی د کابل نیوز خبریال حکمت الله د۲۰۱۶کال د اپریل په ۲۸مه هغه مهال چی له کارځایه دوردگو ولایت ته روان و دلارې په اوږدو کی وسله والو طالبانو له موټر ښکته کړ او له ځان سره یی یووړ کله چی د افغان خبریالانو د خوندیتوب کمیټه له دې پیښی خبره شوه طالبانو سره یی تر اړیکو او هغوې ته پر دې قناعت ورکولو چې نیول شوی تن خبریال دی دوردگو اوسیدونکی دی او له هیڅ سیاسی ډلی سره اړیکی نه لري. بیرته دهغوی له منگولو راخوشې شو.



درویټرز اژانس،الجزیرې عربي او انگلیسي برخو خبریالان مصطفی عندلیب،رحمت الله نیکزاد او عبدالله رحمانی هغه مهال چې غوښتل یی په غزنی ولایت کې د طالبانو له لورې د ملی پولیسو دشهیدو شویو سرتیرو انځورونه د غزنی په ملکی روغتون کی واخلي د امنیه قوماندانۍ دمالی اواداري مسول له لورې وگواښل شول او انځور اخیستو ته اجازه ورنکړل شوه.کله چې دا خبر د افغان خبریالانو دخوندی توب کمیټي ته راورسید کمیټي په مرکزی زون کی له اړوند چارواکو سره دیادو خبریالانو د گډی ناستی زمینه برابره کړه او پر دی سربیره یی له والی او نورو چارواکو سره دخبریالانو پر وړاندی نوری پرتې ستونزی هم شریکی کړې.په همدی ناسته کی سرغړونکو له خبریالانوبخښنه وغوښته او په راتلونکې کې یې د داسې ستونزو دمخنیوي لپاره یوه ځانگړی کمیسیون ته هم دنده وسپارل شوه.



په خوست ولایت کی دامریکا غږ اشنا راډیو خبریال ابراهیم رحیمي د۲۰۱۶ کال دفبرورۍ د میاشتی په ۲مه نیټه په یوه خبري ناسته کی هغه مهال وگواښل شو چې غوښتل یی د امنیه قوماندانۍ د نشه یی توکیو پر خلاف د مبارزی له مشر نه پوښتنه وکړي.هغه نه یوازی چې وگواښل شو بلکی د پوښتنی کولو حق هم ورنکړل شو.دخبریالانو دخوندی توب کمیټي موضوع دامنیه قوماندان سره شریکه کړه .هغوې له ښاغلی رحیمی بخښنه وغوښته او ژمنه یی وکړه چې به راتلونکی کی به هیڅ خبریال نه گواښل کیږي او هریو ته به د هر ډول پوښتنی حق ورکول کیږي.

## له ۲۰۰۱ کال راهیسی په افغانستان کی د رسنیو څرنګوالی (کیفیت)

دطالبانو پنځه کلنه واکمني، هغه دوره چی پکی افغانان له هرډول ازادئ بې برخې و .افغانستان په ۲۰۰۱کال کی په خپل تاریخ کې دیونوي باب د پرانستی شاهد و.دې باب افغانانو ته دنویو هیلو پر راټوکیدلو سربیره دسیاسي ازادئ د ازمویلو ور هم پرانست.دبیان ازادئ په بی ساري ډول پرمختګ وکړګڼې رسنی‌رامنځته شوې.ددموکراسی له لسیزي(۱۳۴۳-۱۳۵۲) راوروسته په لومړي ځل خصوصي رسنیو خپل فعالیت پیل کړ.کابل اونیزه ،ملی ارمان ورځپاڼه،ارمان راډیو،اینه تلویزیون ،افغان تلویزیون اودملی اقتدار ورځپاڼه هغه لومړنی رسنی وې چې دطالب واکمنی له سقوط وروسته یی فعالیت پیل کړ.اساسي قانون چې په ۲۰۰۳ کال کی تصویب شوډ سیمی دهیوادونوپه کچه تر ټولو ښه قانون وګڼل شو چې پکې د بیان ازادئ اوپه ځانګړئ توګه درسنیو ازادئ ته ځانګړئ درنښت ورکول شوی دی..درسنیو قانون چی د لنډمهاله اداری له جوړیدو لږه موده وروسته تصویب شو درسنیودخپلواکې او کار کولو لپاره تر ټول ښه او وړ قانون واودرسنیو دکاراو دغه راز درسنیو له لورې د بیان دازادئ د ازموینی لپاره یی قانوني بنسټ جوړ کړ.

نړیواله ټولنه چی تازه افغانستان ته راغلی وه پر هغه چاپیریال جوړیدنه یی ډیر ټینګار کاوه چی پکې رسنی مهم رول ولوبوي. دهمدی امله یی نه یوازی له رسنیوسیاسي اواخلاقي ملاتړ وکړ بلکی دهغه مهال پر حکومت یی هم ټینګاروکړ چې درسنیواوبیان دازادئ دپرمختګ لپاره زمینه برابره کړي .

نړیوالې ټولنی په ټول هیوادکی درسنیوډ رامنځته کیدو لپاره ډیری پیسی ولګولې. دا ټول ددی لامل شو چې افغانستان په څو کالو کې د سلګونو رسنیو درامنځته کیدو شاهد و.

ددې چاپیریال په رامنځته کیدو سره ځینو سیاسي ځیرو هم دخپلوګوندي او سیاسي نظریو د خپرولو او نوروته درسولولپاره درسنیو درامنځته کیدو سره لیوالیتا وښوده چې په دې برخه کې د ایینې،راه فردا او تمدن تلویزیونونو او نور سلګونو رسنیویادونه وکړو.

په هیواد کی ګڼو رسنیو د خبرونواو خپرونوپه برخه کی د ټیټې مسلکي پوهې په لرلو سره خپل کار پیل کړ چې له هماغه پیله دا رسنی په څلوربرخو ویشل شویدي.

۱- حکومتي رسنی چې دحکومت دنظر،موخو اوخبرونو دخپراوي لپاره بیا خلي جوړې شوې.

۲- خپلواکه رسنی چې دخبرونو، سیاسي خپرونو او نورو بوختیزو(تفریحي) خپرونو د وړاندی کولو په موخه جوړې شوې.

۳- سیاسي او حزبي رسنی چې دګوندونو د موخو د خپرولو او سیاسي اوولس ته د سیاسي ځیرو د ورپیژندلو په موخه جوړې شوی.

۴- قومي رسنی چې د قومونو د موخو د تعقیب لپاره جوړې شوې.

که څه هم چې پر څلوروګټه ګورینو د رسنیو ویش له ځینو سره اندیښنی راولاړې کړي خودپام وړ ټکی دادی چې ډیری لیدونکی او اوریدونکی له خپلواکو رسنیو سره لیوالتیا لري چې اساسي لامل یی ددغو رسنیو بی پریتوب او په مسلکي بڼه د خبرونو ،بوختوونکو اونورو خپرونو چمتوکول ښودل شویدی.

داسی هیله ښودل کیده چې د وخت په تیریدو سره به دډیری رسنیو څرنګوالی(کیفیت) ښه شي خو دډېر عکس یی دا وړاندوینه نا سمه راوخته اوپه دې برخه کی چندانی بریالیتوب موجود نه و.که څه هم ځینی لویو خبري رسنیو خپل څرنګوالی(کیفیت) راښه کړخو ډیری رسنی اوس هم دراپور ورکولو پرمهال له هماغه زړو میتودونو کار اخلي. اود راپورجوړولو اوخپرولولپاره دنویو لارو چاروپه کارولو کی کومه لاسته راوړنه نه لري.دګردي میزونو دڅرنګوالي او ارزښت په برخه کی هم پام وړ پرمختګ نشته .دګوتو په شمیر ځیرې په ګردي میزونو کی اوړي راوړي اوتر ډیره په تلویزیونونو کی ګردي میزونو کلیشه یی بڼه غوره کړې.ددغوځیرو په خبرو او شننو کې نوې خبره نه وي او هماغه تکراري جملی بیا بیا تکراروي.

رسنۍ په ځانګړی توګه تلویزیونونه چې په هیواد کی ډیر لیدونکی لري تر ډیره یی بوختونکو (تفریحی )خپرونوته مخه کړی ده او همدالامل دی چې دځرنګوالي او څومره والي له پلوه بوختونکو خپرونوخورا پرمختګ کړی دی.دتلویزیونونود بوختونکو خپرونو د لیدونکودشمیر ډیرښت دنوروخپرونوپه ځانګړی توګه خبري برخې سیورس غوړولی اوچندانی پام ورته نه کیږي.

دافغانستان په رسنیو کی د څېړنیرو راپورونوپه جوړولوکی یوه تشه موجوده ده .په افغانستان کې د پراخه اداري فساد دشتون له امله طمع کیده چې رسنۍ به د خپلو څیړنیزو راپورونو یوه برخه داداري فساد له منځه وړلو ته ځانګړی کړي خو دا چاره ترسره نه شوه.که څه هم چي د زورواکوفشار،د خبریالانو نه خوندیتوب اومعلوماتواواطلاعاتونه نه لاسرسی هغه عوامل دي چې دڅیړنیزوراپورونو د ښه والی او پرمختګ مخه یی ډب کړې خو سره له دی هم دې برخې ته درسنیو نه پاملرنه د نیوکی وړ ده.

ددې ترڅنګ دافغانستان رسنیو کورني تولید په ځانګړې توګه دمستندو فلمونواوخپرونو جوړولو ته پام نه دی کړی .په تیرو پنځلسوکالوکې دګوتو په شمیررسنیویوازی څومستندفلمونه جوړ کړي چې د رسنیو د ځارونکو او لیدونکو قناعت یی نه دی تر لاسه کړی.دخبري راپورونو څرنګوالي(کیفیت) نه دی موندلی.ددې راپورونوڅرنګوالی یوډول دی او په ټوله کی د دتیرو کالوپه پرتله مخ به ځوړ روان دی.خو ددې ټولو نیمګړتیاو سره سره دافغانستان رسنیوپه هیواد کی د دموکراسۍ دبهیر په پیاوړتیا ،ښه حکومتوالۍ،دبشري حقونو په ځانګړی توګه دمیرمنودحقون مطرح کولو اودپلازمینی کابل اوولایتونو(لرې پرتو)سیمو تر منځ دخبرو اترو دټینګولوپه برخه کې مهمرول لوبولی دی.په ټاکنوپه ځانګړی توګه د ۲۰۱۴ کال دولسمشرۍ په ټاکنوکی د برخی اخیستو په موخه دخلکو هڅونه کې درسنیو رول ډیر مهم او ارزښتناک و،دافغانستان رسنۍ باید دژورنالیزم مسلکي شویوارونو(اصولو) ته درسیدو لپاره اوږد مزل وکړي .خو دا باید له یاده ونه باسوچې د افغانستان پنځلس کاله وړاندی مړ ژورنالیزم یوځل بیا ژوندی شو.

## نوې خبریالي او د رسنیو مکلفیتونه

په افغانستان کې د رسنیواو خبریالانو د ټولنولپاره نوي بهیر سربیره پر دې چې پرمختګ او پراختیا یی له ځان سره درلوده خبریالانوته یی ګڼ مکلفیتونه هم ور ترغاړې کړل دبیلګې په توګه په هغه هیواد کې چې درسنیو قانون موجود نه و ،په هغه ځاې کې چې دخبریالۍ مسلکي اخلاق نه وي.خبریالانو دخپلو مکلفیتونو او دندو په اړه لږ معلومات درلودل.

اوسمهال دغوښتنو سره سم باید داطلاعاتو اوکلتور وزارت د رسنیو د ملاتړي او تنظیمونکي بنسټ په توګه باید درسنیو دښه پرمختګ لپاره بنسټیزه کړنلاره برابره کړې واې.خبریالانو له خپلو حقوقو خبر کړي وای.او کله چې خبریالان له ستونزو سره مخامخ کیدل دهغوې لاسنیوی یې کړې کولاې او دهغوې د دوسیو او قضیو څاَرنه یی کولاې.

دحکومت دې لټې او وروسته پاتې والي دخبریالانو د ملاتړ ټولنو او همدارنګه نورو مسلکي بنسټونو درامنځته کیدو اړتیا ډیره کړه.پر حکومتي تشکیلاتو جوړه د خبریالانو ملي ټولنه له منځه ولاړه خو دخبریالانو دملاتړلسګونه بنسټونه رامنځته شول.دا بنستونه چې په بېلابېلو برخوکی یی فعالیت پیل کړپر رسنیو او خبریالانویی خورا اغیر پریښود.او درسنیو د کار دلا اغیزمنتوب لپاره په ۲۰۱۳ کال کې دخبریالانو دملي فدراسیون په نوم بنسټ تر سیوري لاندې سره راټول شول.ددې بنست مهمی دندې په لاندې ډول دي.

- په کاري چاپیریال کی خبریالانو ته دورپیښو ستونزو حل کول.

- دخبریالانو لپاره د حق غوښتنه.

- له خبریالانو حقوقي ملاتړ.

- له خبریالانو روغتیایی ملاتړ.

- دخبریالانو د پوهې کچې دلوړاوي په موخه دروزونکو پروګرامونو پلي کول.

- له رسنیو نه تخنیکي ملاتړ

## دشکایتونو څېړنه

په لومړي سر کې خبریالان پر دې نه پوهیدل چې دستونزې او ګواښونو پرمهال چاته ورشي او ایا داسې کوم بنسټ شته چې دهغوی غږ واوري او یا دا غږ داسې ځاې ته ورسوي چې دستونزو د حل واک ورسره وي.دخبریالانو دملاتړ ټولنو لومړنی کار همدا اوو چې داسې یو ادرس په ګوته کړي او ددې مسولیت یې هم پر خپله غاړه واخیست.

## عدالت غوښتنه:

دخبریالانو لپاره د عدالت غوښتنه دبې‌لګې په توګه دخبریالانو دکار نا عادلانه ترون په اړونده اداره کې کاري فشارونه او بې عدالتي او یا هم په خبریالانو پورې دتړلو موضوعاتو ګونګتیا،چې دې ټولو د قوانینو او لوایحو شتون ته اړتیا درلوده.

دافغان خبریالانو دخوندیتوب ټولنه هم دهغه بنسټونو په ډله کې ده چې تر دامهاله یې دخبریالانو دستونزو د حل هڅې کړې او ارزښتمنې او دپلې کیدو وړ طرحې یې حکومت ته وړاندی کړې دي.

دهمدغه بنسټونواو د افغان خبریالانو د فدراسیون دهڅو او فشار په پایله کې درسنیو قانون په په ۲۰۰۳میلادي کال کې جوړ او بیا وزیرانو شورا له خوا تصویب او د ولسمشرکرزي له لورې توشیح او دباور وړ وګرځید.دا قانون دشته نیمګړتیاو له امله دوه ځلې د خبریالانو دملاتړ ټولنودغوښتنی سره سم تعدیل شو.همدارنګه نور قوانین لکه اطلاعاتو ته دلاسرسي قانون،دټولیزو رسنیو د جوړولومقرره او د ژورنالیزم اخلاقي معیارونه هم ددغو ټولنودهڅو په پایله کې جوړ شوي دي.

کمیټې همدارنګه دولسمشرې د دویم پړاو له ټاکنو وړاندې له دواړو مخکښنو نوماندانود ژمنې د تر لاسه کولو طرحه وړاندې کړه دخبریالانو دحقونودملاتړ نورو بنسټونوپر ملاتړ دا دولس ماده ییزه طرحه د دواړو نوماندانو له لورې لاسلیک شوه او دواړو ژمنه وکړه چې دا طرحه به عملی کوی په دې ژمنلیک کې دا موضوعات شامل و.

## دخبریالانو حقوقي ملاتړ

کله چې خبریالان په کاري چاپیریال ،حکومت او یاهم په ټولنه کې له حقوقي ستونزو سره مخ شویدي.ملاتړي بنستونه په ځانګړې توګه دافغان خبریالانو د خوندیتوب ټولنې یې مرستې ته وردانګلي او دهغوې حقوقي ستونزې یې دهغوې د خپلې غوښتنې له مخې د ددود او یاهم قوانینو په رڼا کې حل کړي دي.

## له خبریالانو روغتیایی ملاتړ

هغه خبریالان چې د دندې پرمهال له روغتیایې ستونزو سره مخ کیږي د افغان خبریالانو د خوندیتوب ټولنې ملاتړ تر لاسه کوي دغو خبریالانوته ټولې روغتیایی اسانتیاو برابریږي .که په هیواد کې دننه دزیانمنو شویو خبریالانو درملنه شونې نه وي له هیواده دباندې یې د درملنې تابیا کوي.

کمیټې دخبریالانو دروغتیایی ستونزو په اړه له تر سره شوي پلټنې وروسته وموندله چې ۷۳٪ سلنه خبریالان چې مخامخ دتاوتریخوالی له پیښنو سره سرو کار لري او هغه تر خبري پوښښ لاندې نیسي .دې پیښنو پرې رواني اغیز کړی دی.کمیټې همدارنګه د دا ډول خبریالانو ددرملنې لپاره هم ګام پورته کړی دی او په دې برخه کې یې د متخصصو ډاکترانو په مرسته دهغوی د روانی درملنې په موخه اقدام کړی دی.

## دخبریالانو دضرفیتونو او څېړونو دښه والي روزنیز پروګرامونه

دافغان خبریالانود خوندیتوب ټولنه او نور بنسټونه وخت ناوخت د خبریالانو دضرفیتونو د لوړولو په موخه روزنیز ورکشاپونه جوړوي.دروزنیزو پروګرامونو له ډلې یو تر ټول مهم او اغیزمن پروګرام د خبریالانو دفزیکی خوندیتوب پروګرام دی چې دکمیټې له لورې په کال کې دوه یا درې ځلې دمرکز او ولایتونو ټولو خبریالانو ته پلی کیږي.

## درسنیو تخنیکي ملاتړ

دافغانستان رسنۍ د رامنځته کیدو له هماغه لومړۍ ورځې پر بهرنیو مرستو تکیه کړې او تر ډیره بریده دولایتونو رسنی د انټرنیوز ادارې له لورې تخنیکی ملاتړ تر لاسه کړې.

پر دې سربيره ځيينی نور بنسټونه هم شته چې درسنيوسره يی د خپرونو دښه والي او بيلابيلو خپرونو د چمتو کولو په برخه کې تخنيکی مرستی کړي دي.

## د افغانستان په رسنيو کې د ميرمنو منډ ماتونه

هغه ځوانان چې له نوي فکر سره افغانستان ته دراستنيدو په حال کې وو، نو ډير ژر د افغانستان د ملي راډيو تلويزون له مبتذلو خپرونو ستړي کېدل. ځکه چې د دوی ذوق يی نه شو خړوبولی. نو يوه جدي اړتيا وه چې ځوانان دغه منډ مات کړي او هغه څه يی چې د ګاونډيو هېوادونو په تلويزيونونو کې ليدلي او يا يی له راډيو ګانو اوريدلي، پخپل هېواد کې هم ولري. البته د خپلو ديني، فرهنګي ارزښتونو په رڼا کې.

پداسې حال کې چې د بهرنيانو پر مټ يوې يا دوه راډيوګانو په افغانستان کې د ملي راډيو تلويزيون نه متفاوتې خپرونې لرلې، مګر د ۲۰۰۱ لومړي کال په وروستيو کې د لومړي ځل لپاره يوه خصوصـي راډيو په افغانستان کې جوړه شوه. دوی داسې خپرونې او موسيقي خپروله چې تر ډېره د نوي نسل لپاره په پام کې نيول شوي و.

نه يوازې دا بلکې د ټولو خپرونو بڼه يې متفاوته وه، ځوانان د احساساتو له نيلي راکوز شوي وو او په ډېره نرمه ژبه يې خبرې کولې، تر ډېره د دغو خپرونو چلوونکي هلکان او ځوانې نجونې وې.

کرار – کرار خصوصـي تلويزيونونه جوړ شول او هغوی هم له ګاونډيو هېوادونو په تقليد کولو سره د خپرونو لار خپله کړه.

ځوانې نجونې چې تازه له بېرونه نه راستنې شوې وې او يو ځانګړی بيروني سټايل يې لره، نو ډېره علاقه يې دا وه چې د تلويزيون په پرده راڅرګندې شي.

له دې سره – سره چې دې کار يو لوی فرهنګي او مذهبي محدوديتونه هم لرل، ځوانې نجونې چې په رسينو کې کار کولو ته چمتو کېدې زيات خطرونه يې هم قبلول. چې دغې چارې د يو شمېر خلکو ووايه او مه وايه مثبت او منفي احساسات هم لرل. دغې منډ ماتوونې زياته سربښندنه هم لرله، چې ددې لومړنۍ قرباني همغه شيما رضايي وه چې د ډېرو په باور د خپلې کورنۍ له خوا په مرموز ډول ووژل شوه.

مګر دا حرکت نه يواځې دا چې په رسنيو کې يې دځوانو نجونو دفعاليت مخه ونه نيوله ، بلکې دهغو دشته والي اړتيا يې نوره هم زياته کړه ، تر يو ځايه چې نيوکه کوونکي پر دغه چاره يو څه په حقه وو چې زياتره ځوانان چې دې برخې ته مخه کوي اما تور او بې تجربې وو ، يواځې فکر او اندونه چې له دوې سره وو ، دوې يې بريالي ښودل ، چې دبرياليتوپونو تر څنګ يې يو څه ښوييدنې هم لرې .

زياتره هغه نيوکې دفرهنګي او مذهبي تعصب نه سرچينه اخلي او ددوې دښه نه کار کولو دليل نشته ، وروسته د رسنيو په داخل کې او همدارنګه په رسنيو ددوې موجوديت ته مشاهده کيږي .

دبېلګې په توګه : کله چې يوې خبريالې غوښتل د ماشومانو ديو روغتون نه ليدنه وکړي چې ميندې له خپلو ماشومانو سره يو ځای وې چې راپور وليکي مګر ونه توانيده ، چې يا ميرمنو هلته د ورتګ اجازه نه ورکوله يا يې که ورکوله خبرو اترو ته نه وزګاريدل . دښځينه زندانونو په اړه ، روغتونونو او يا هر مرکز چې په دوې پورې اړه لري وضيعت همداسې دی ، دا اړتياوې ددې سبب شوي چې زياتې ښځې او ميرمنې دې برخې ته راشي او ښې وځليږي .

له دې ټولو سره سره په هيواد کې درسنيو په ازادئ زياتې ښځينه خبريالې له دې وضيعت نه خوښې نه دي ، دوې ادعا کوي چې دخبري رسنيو په ټولو بنسټونو کې په ځانګړي ډول په انځوريزواو غږيزو رسنيو کې پر دوديزو محدوديتونو سربيره سليقوي برخوردونه هم ددې سبب کيږي چې په رسنيو کې دميرمنو دپرمختګ مخه ونيسي .

د اريانا نيوز خبرياله ويدا ساغري وايي چې، په رسنيو کې نارينه هيڅکله مهم بستونه ښځينه و ته نه ورکوي، تر دې چې ځينې وختونه مسلکي ښځينه مقررېدای هم نشي. ددې خبرې دوه دليلونه دي، يو دا چې د تکړه او مسلکي خبريالې سره

مغرضانه چال چلند نشي کولی او دویم دا چې د خپل کاري موقف د اخیستو ویره ورسره نه وي. د هغې په وینا له ښځینه خبریالانو نه د ارزانه ابزارو او د مخاطبینو د جذب وسیلې په توګه استفاده کېږي. هغه ښځې چې د لوړه پوهه ولري په سختۍ سره کولی شي چې په رسنیو کې پاتې شي.

یو شمېر خبریالان په دې اند دي چې سړي په رسنیو کې د ښځینه خبریالانو د پرمختګ مانع ګرځي او د کلیدي پوستونو لپاره ځینې بهانې ورته لټوي؛ لکه د زیږون پر مهال کاري رخصتي.

دا ستونزې نه یوازې دا چې په خصوصي رسنیو کې دي، بلکې تر ډېره په دولتي رسنیو کې هم تر سترګو کېږي او د یوې نیمې لسیزې راهیسې د افغانستان دولت په دې نه دی توانیدلی چې په نورو دولتي ادارو، د وزارتونو عامه اړیکو ریاستونو او مستقلو ادارو کې د ښځینه خبریالانو له مهارتونو ګټه واخلي.

دولت ولې د دومره ویاندویانو تر منځ یوه ښځینه د ویاندې په توګه نه ده غوره کړې؟ ایا د دومره ښځینه خبریالانو تر منځ یوه هم داسې نشته چې د یوې ادارې ویاندې په توګه دنده ترسره کړي. دا منل شوې خبره ده چې نارینه نسبت ښځینه و ته په اداري فساد او رشوت کې ژر ښکیل کېږي.

په رسنیو کې د نر واکۍ چاپیریال هم په رسنیو کې د ښځینه و د کار نه کولو یو لامل ګڼل کېږي.

د مکیه منیر په نوم یوه ښځینه خبریاله چې کابو یوه لسیزه په دې برخه کې دنده اجرا کوي، وایي چې نارینه د تبعیض له امله دا هیڅکله نشي زغملی چې د ښځینه و لاس لاندې کار وکړي، سره ددې چې هغه له دوی څخه پخپل مسلک کې ډېر پیاوړې وي. دا حقیقت د یوې خبریالې له لورې لیکم. هغه وایي: (( کله چې په یوې راډیو کې د نیوز منیجرې په توګه معرفي شوم، ټول هغه نارینه همکاران چې پخوا یې راسره ښې اړیکې درلودې، یو ناڅاپه مې پر وړاندې ودریدل او مخالفت یې راسره پیل کړ)). د هغې په اند تر هغې چې ښځینه و ته په سپکه کتل کېږي، په کلیدي پوستونو کې د ښځو لپاره ځای نه موندل کېږي.

ددې سره – سره چې د ورځپاڼې لیکلو او رسینو مدیریت په برخه کې د تحصیل کړی شوو میرمنو کمی نشته، خو د دوی ډېری د ژورنالېزم په برخه کې په ناڅېز معاش په ځانکړې توګه د تفریحي او سات تیري پروګرامونو او یا هم د سوداګریزو اعلانونو په برخه کې، هغه د مهارت او مسلکیتوب له امله نه، بلکې د دوی د ښکلا له مخې استخدام کېږي.

د ټولو ستونزو سربېره چې په رسنیو کې د ښځینه و په وړاندې موجودې دي، ځینې ښځینه و خبریالانو ټولې شته ستونزې منلي او په رسنیو کې یې خپلو دندو ته دوام ورکړی ددې سره چې د وسلوالو مخالفانو له خوا د سختو امنیتي ستونزو او د ټولنې کولتوري او سنتي رواجونو سره مخامخ دي.

د وروستیو څو کالونو په اوږدو د هېواد امنیتي حالت مخ په خرابېدو دی، دې حالت نیغ په نیغه په رسینو کې ښځینه خبریالانو باندې منفي اثر کړی دی.

ځوانه خبریاله مینا حبیب چې له یوې لسیزې را پدېخوا خبریالي کوي وایي: د له ۲۰۰۴ څخه تر ۲۰۰۹ کال پورې د ښځینه و حالت نسبتا ښه و، ځکه چې امنیتي شرایط دومره خراب نه وو. خبریالانو به تر ډېره په رسنیو کې کار کولو او د راپورونو چمتو کولو لپاره به یې حتی ولایتونو ته هم سفر کولو، چې دا حالت د ۲۰۰۹ څخه تر اوسه سرچپه شوی چې ښځینه خبریالانې د نورو په سر کې دي.

دم ګړۍ ښځینه خبریالانې په پلازمینه او ولایتونو کې د دولت مخالفینو د فشارونو لاندې، د روحي، رواني او کولتوري فشارونو لاندې دي، دا ددې لامل شوي چې یو شمېر ښځینه خبریالانې خپلې دندې پریږدي او یا هم له هېواده بېرون وتښتي.

د وروستۍ یوې نیمې لسیزې تحولاتو په هېواد کې د ۷۰ خصوصي تلویزیونونو، ۳۶۰ محلي او ملي راډیو ګانو، د ۸۰۰ چاپي رسنیو چې په دوی کې ځینې ورځپاڼې، اونیزې، مجلې او فصلنامې دي په پلازمینې او ولایتونو کې منځته راتګ زمینه مساعده کړه.

خو له بده مرغه ددې سره – سره میرمنې چې د افغانستان نیمایي جوړوي او د ولسواکۍ او د بیان د ازادۍ په تحقق کې یې د نارینه و سره په خوا کې له ټولو ستونزو سره – سره مبارزه کړې او برخه اخیستې، مګر نن یې حضور د تجربه لرونکو کادورنو په حیث له ننګونو سره مخامخ دی او له پامه غورځېږي او په شعوري ډول یې تحصیل او تجربه هم څنګ ته شوې ده. د یادونې وړ ده چې د رسنیو مدیریت ته د تجربه لرونکو میرمنو لاره نه موندل یو قصدي عمل دی، چې د دوی د ټکولو لپاره تر سره کېږي او دوی ته اجازه نه ورکول کېږي چې پرمختګ وکړي.

## پایله

۱. ۲۰۱۶ کال د خبریالانو لپاره تر ټولو خونړی و. تر دې دمه لس خبریالان وژل شوي، هغه شمېره چې د افغانستان د رسنیو په تاریخ کې بې سارې ده. له بل پلوه په سلو کې د ۵۳ تاوتریخوالۍ پیښو زیاتېدنه چې د ۲۰۱۵ کال د لومړیو شپږو میاشتو پرتله زیاتوالی ښیي، دا د خبریالانو د خوندیتوب پر وړاندې یوه جدي اندیښنه ده.

۲. دطالبانو له لوري د خبریالانو پر وړاندې د تاوتریخوالي زیاتیدل او د ډول بدلیدل یې دخبریالانو پروړاندې د تهدید څرنګوالی هم زیات والی دپام وړبدل کړی دی. دې بدلونونو په افغانستان کې خبریالي نسبت پخوا ته ډېره خطرناکه کړې او د خبریالانو د وژل کېدو او زخمي کېدو شونتیا یې تر بل هر وخت زیاته کړې ده.

۳. ټولیزه بې ټکاوي او د طالبانو په لاس د یو شمېر ولایتونو د سقوط خطر، د کندوز د سقوط په تعقیب دا حقیقت بربنډوي چې خبریالان په نا امنو ولایتونو کې تر ټولو زیات ددې حالاتو قربانیان دي.

۴. رسنۍ د او د بیان ازاي چې د تېرې یوې نیمې لسیزې لویې لاسته راوړنې دي، خو د جدي ننګونو سره مخامخ دي. د خبریالانو پر وړاندې ګواښونه، مالي ستونزې، د څرنګوالي له پلوه د رسنیو نه پرمختګ، د ګوندي رسنیو زیاتوالی د رسنیو پر وړاندې لویې ننګونې دي. همدا رنګه د حکومت له خوا له رسنیو سره د معلوماتو نه شریکول هم د خبریالانو پر وړاندې جدي ستونزه ده.

۵. سره له دې چې میرمنې په رسنیو کې فعاله ونډه لري، خو د دوی دغه پرمختګ په ټوله کې یوازې په تفریحي خپرونو او یا د خبرونو د ویاندویانو په توګه دی. دا رنګه د دوی حضور په لویو ښارونو پورې تړلی دی چې په رسنیو کې کار کوي، په لېرې پرتو ولایتونو کې د دوی شتون د هیڅ په حساب دی. میرمنې په خبري او د رسنیو په رهبرۍ کې ډېره کمزورې ونډه لري.

۶. رسنۍ د کارمندانو حقوقو په برخه کې ډېرې کمزورې دي او په ډېرو برخو کې غیر عادلانه عمل کوي، چې دا مسله د خبریالانو به برخه کې ډېره جدي ګڼل کېږي.

۷. د خبریالانو ستونزو ډېروالي سره سره چې دوی په رسنیو کې ورسره لاس و ګریوان دي، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او د خبریالانو نورې ملاتړې اداری د خبریالانو حقوقو په برخه کې کمزوری چلند کوي. د مقررې د جوړولو لارې چارې او د ټولیزو رسنیو فعالیتونه چې د قانون پر بنسټ د دا وړ زیاتو مشکلاتو د حل په موخه رامنځته شویدي تر اوسه پورې د رسنیو له خوا ندي عملي شوي. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ددې مقررو د تطبیق او نظارت په برخه کې هیڅ د پام وړ اقدام نه دی کړی.

# سپارښتنې

۱. افغان حکومت، نړیواله ټولنه او د خبریالانو د ملاتړ نړیوال بنسټونه باید د خبریالانو د خوندیتوب پر وړاندې کوټلي ګامونه پورته کړي. افغان حکومت په ځانګړي ډول د ملي امنیت شورا باید د خبریالانو د خوندیتوب طرز العمل بشپړ کړي او د پلي کېدو په برخه کې یې باید مرسته وکړي. د افغانستان حکومت باید د خبریالانو د خوندیتوب په برخه کې د رسنیو له ملاتړو ټولنو او مسولو مدیرانو سره پام وړ مرسته وکړي. همدا رنګه مرکزي حکومت په ولایتي حکومتونو په ځانګړي ډول په ناامنو ولایتونو کې امر وکړي چې د خبریالانو د خوندیتوب په برخه کې ورسره جدي مرسته وکړي. د ولایتونو د سقوط پر مهال د رسنیو لپاره یو پروګرام جوړ کړي چې د ستونزو پر مهال خبریالانو سره مرسته وکړي.

۲. د رسنیو د ملاتړ ملي او نړیوال بنسټونه د خپلو ټولو شته امکاناتو نه د خبریالانو د خوندیتوب لپاره ګټه پورته کړي. دوامداره عدالت غوښتنه او هغه لارې چارې چې له وړاندې نه د دوی په مصونیت کې مرسته کولی شي، چې دوی ته روزنیزو کورسونو په چمتو کولو سره سرته رسیږي چې ښایي د دوی د ځاني خوندیتوب مسایل هم پکې راونغاړل شي.

۳. رسنۍ باید خپلو کارکوونکو خوندیتوب ته لومړیتوب ورکړي. د دوی د خوندیتوب په تړاو د لازمو تدابیرو نیول نه یوازې دا چې د رسنیو اخلاقي مسولیت دی، بلکې د دوی قانوني مکلفیت هم دی. د ټولیزو رسنیو د فعالیتونو په برخه کې جوړه شوې مقرره د دوی مکلفیتونه هم په ډاګه کوي.

۴. د رسنیو د خوندیتوب اړتیا تر هر مهال زیاته اوس مهال محسوسیږي. همدغې ټکي ته په پام سره باید نړیواله ټولنه د خبریالانو د خوندیتوب لپاره چې د دوی د ساتنې او د بیان د ازادۍ په ربښتینواله کې مهم رول لري، باید لازم اقدام وکړي. پر افغان حکومت د خبریالانو د خوندیتوب په برخه کې فشار راوړل او د رسنیو د ملاترو بنسټونو ملاتړ کول د خبریالانو د مصونیت په تړاو دوی ته د روزنیزو کورسونو چمتو کول مهم اقدامات بلل کېږي.

۵. د رسنیو پر وړاندې د مالي ستونزو ګواښ هم پام وړ دی. باید په دې برخه کې هم افغان حکومت او نړیواله ټولنه دوی ته لاس ورکړي. دا ډول پروګرامونه لکه سبسایډي یا مساعدت او یا هم داسې یوه کړنلاره چې تر مخه یې دوی وتوانیږي چې سوداګریز اعلانونه راخپل کړي. نړیواله ټولنه باید د رسنیو او د بیان له ازادۍ ملاتړ په خپلو تګلارو او لومړیتوبونو کې راولي.

۶. په افغانستان کې د رسنیو پام وړ پرمختګ د نړیوالې ټولنې د سخاوت مندانه مرستو پورورې دی؛ نو نړیواله ټولنه باید دغه پرمختګ چې د دوی په زیات مالي لګښت ترسره شوی په اسانۍ له لاسه ورنکړي.

۷. رسنۍ د میرمنو په رسنیو کې د پراخې ونډې اخیستې او مدیریت کولو په برخه کې لازمې پریکړې وکړي. همدا رنګه باید د هغوی د جنسي ځورونو نه چې لوی مشکل دی او په زیاترو رسنیو کې رامنځته کېږي، د یوې مشخصې کړنلارې په جوړولو سره مخنیوی وکړي. افغان حکومت باید په رسنیو کې د میرمنو د و ضیعت د ښه کولو په برخه کې باید یوه مقرره جوړه کړي چې په جدیت سره عملي شي. د رسنیو ملاتړ بنسټونه باید په دې برخه له رسنیو سره مرسته وکړي او هغه کړنې چې تر سره کېږي، وڅاري.

۸. حکومت باید د ټولیزو رسنیو په برخه کې د مقررې په جوړولو او تطبیقولو سره چې د رسنیو زیاتره مشکلات پکې حلیږي، اقدام وکړي او لازم او جدي تدابیر ونیسي. د مقررې د نشتون په صورت کې به مشکلات په خپل ځای پاتې وي.